PS



# ماشومان چې نړیواله پناه غواړي

د اروپايي اتحادیې (EU) د 2013/604 مقررې  د4  مادې په اساس هغه بې سرپرسته ماشومانو ته معلومات چې د نړیوال حمایت غوښتنه کوي

دا رساله د دې لپاره درکوو چې د ساتنې او حمایت غوښتنه مو کړې او مونږ ته مو ویلي ده چې د18 کلو څخه لږ عمر لری. که چیرته ستاسو عمر د18 کالو څخه لږ وي نو د ماشومانو په کتار کې شمیرل کیږی. همدارنګه کیدای شي د هغو چارواکو له خولې څخه چې تاسو ته راځي د ‹کوچنی› کلمه واوری چې دا هم د ماشوم په معنا ده. ‹چاروکي› هغه کسان دي چې ستاسو د پناه غوښتنې په اړه تصمیم نیسي.

**که چیرته د دې لپاره دلته د پناهندګی غوښتنه کوی چې په خپل اصلي هیواد کې مو ژوند له خطر سره مخ وي، نو دې وضعیت ته مونږ ‹پناه غوښتنه› وایو. پناه هغه ځای ده چې د ساتنې او خوندیتوب لپاره غوره کیږي.**


کله چې په رسمی بڼه له چاروکو څخه د پناهندګی غوښتنه کوی، دې کار ته په قانون کې ‹د نړیوال حمایت درخواست› ویل کیږي. هغه کس چې د حمایت غوښتنه کوي د ‹غوښتونکي› په نوم یادیږي. کله کله کیدای شي خلک تاسو ته ‹پناه غوښتونکي› هم ووایي.

ستاسو مور او پلار باید در سره ملګري وي، خو که چیرته دوی درسره نه وي، یا په لاره کې ورڅخه بیل شوی یاست، نو تاسو ‹**بې سرپرسته ماشوم**› بلل کیږی.

پدې صورت کې، مونږ تاسو ته یو ځوان ‹استازی› ټاکو تر څو د کړنلارې په جریان کې درسره مرسته وکړي. هغه/هغې د درخواست په بهیر کې او همدارنګه کله چې غواړی له چاروکو سره خبرې وکړی، له تاسو سره مرسته کوي. تاسو کولی شی خپله ستونزه او هم اندیښنې له خپل استازی سره شریکې کړی. نوموړی استازی دنده لري چې ستاسو غوره ګټې تامین کړي پدې معنا چې ځان ډاډه کړي چې ستاسو اړتیاوې، خوندیتوب، ښه ژوند، ټولنیز پرمختګ او ستاسو نظریاتو ته درناوی کیږي. همدارنګه استازی مو خپل کورنی سره د بیرته یوځای کیدو احتمالات هم په نظر کې نیسي.

**دا رساله یوازې د معلوماتو په موخه جوړه شوې ده. دا هڅه کوي هغو کسانو ته چې د نړیوال حمایت غوښتنه کوي، د ډبلین د کړنلارې په اساس اړوند معلومات وړاندې کړي. دا په خپله هیڅ ډول حقوق یا قانوني مسولیت نه لري. د ډبلین په کړنلاره کې د دولتونو او افرادو حقونه او مسولیتونه هغه څه دي چې د اروپایي اتحادیې په 2013/604 مقرره کې راغلي دي**

**© د اروپا اتحادیه 2014**
**بیاتولید یې مجوز دی. د هرډول کاروونې یا انفرادي عکس (کاپي) تولید لپاره اجازه باید د کاپي حق لرونکو لخوا په مستقیم لیکلې بڼه واخیستل شي.**




د ډبلین په هیوادونو کې د اروپایي اتحادیې28 هیوادونه (استریا(AT)، ایټالیا(IT)، انګلستان(UK)، استونیا(EE)، آیرلیند(IE)، بلجیم(BE)، بلغاریا(BG)، پولیند(PL)، پرتګال(PT)، جرمني(DE)، چک جمهوریت(CZ)، دنمارک(DK)، رومانیا(RO)، سلواکیا(SK)، سلوانیا(SI)، سویډن(SE)، فینلیند(FI)، فرانسه(FR)، قبرس(CY)، کرواسیا(HR)، لوکزامبورګ(LX)، لتویا(LV)، لیتوانیا(LT)، مالتا(MT)، نیدرلندز(NL)، هسپانیا(ES)، هنګري(HU)، یونان(EL))، او د ډبلین مقرراتو 4 "اتحادي هیوادونه" شامل دي (ایسلند(IS)، سویټیزرلنډ(CH)، لیختن اشتاین(LI) او ناروی(NO)).



©European Union

# که چیرته په کوم موضوع نه پوهیدی نو کولی شی چې د خپل استازی یا هم زمونږ له چارواکو څخه د مرستې غوښتنه وکړی!

که څه هم پدې هیواد کې مو د پناه غوښتنه کړې ده، خو کیدای شي یو بل هیواد ستاسو د پناهندگی قضیې د سپړلو مسولیت په غاړه واخلي.

یوازې یو هیواد ستاسو د درخواست مسولیت په غاړه اخیستلی شي. نوموړی هیواد د یو قانون له مخې چې **‹د ډوبلین مقرره›** نومیږي، ټاکل کیږي. دا قانون معلوموي چې آیا مونږ ستاسو د درخواست د معاینې مسولیت لرو یا یو بل هیواد باید دا مسولیت په غاړه واخلي – مونږ دې کار ته ‹د ډوبلین کړنلاره› وایو.

دا قانون په داسې جغرافيوي سيمه کې پلي کيږي چې32 هيوادونه[1] کې شامليږي. په دې ليکنه مونږ دې32 هيوادونو ته ‹د ډوبلين هيوادونه› وايو.

هيڅکله هم د چارواکو څخه يا د ډوبلين يو بل هيواد ته د تيښتې هڅه مه کوئ. کيداى شي ځينې خلک داسې درته ووايي چې تيښته تر ټولو غوره لاره ده. که چيرته څوک درته وايي چې وتښتى يا له ده سره لاړ شى، نو فوراً د خپل استازى يا هم د دولتي چارواکو سره يې شريکه کړئ.

مهرباني وکړئ په لاندې مواردو کې فوراً دولتي چارواکو ته خبر ورکړئ:

- تاسو يوازې اوسى او فکر کوى چې د 32 ډوبلين د هيوادونو څخه چې په 3 پاڼه کې يې نقشه ښودل شوې ده، په يو هيواد کې ستاسو مور، پلار، ورور، خور، ترور[2]، تره[3]، نيکه، يا انا اوسيږي؛
- که داسې وي، نو آيا غواړې له دوى سره ژوند وکړى؛
- آيا نوموړى هيواد ته مو سفر کړې دى، که کړى مو وي، له چا سره مو کړې دى؛
- ‹د ډوبلين له32 هيوادونو› څخه مو په کوم يو کې ژوند کړى وي؛
- د ډوبلين په کوم بل هيواد کې مو د ګوتې نښه اخيستل شوى وي: د ګوتې نښې هغه رسمونه دي چې د ګوتو څخه اخيستل کيږي او ستاسو په پيژندلو کې مرسته کوي؛
- مخکې مو د ډوبلين په کوم بل هيواد کې د پناهندګۍ لپاره درخواست کړى وي

1) په 3 مخ کې تاسو د دې سيمې يوه نقشه لرئ.
2) ستاسو د مور يا پلار خور
3) ستاسو د مور يا پلار ورور

## ډیره مهمه ده چې د دولتي چارواکو سره په هر پړاو کې همکاري وکړی او همیشه ورته ریښتیا ووایاست.

که چیرته د مور او پلار تر سرپرستی لاندې نه یاست، او غوارۍ د پناهندگی غوښتنه وکړی، د ډوبلین سیستم پدې برخه کې درسره مرسته کوي.

که چیرته پدې اړه کافي معلومات ولرو کولی شو د ډوبلین په هیوادونو کې ستاسو مور او پلار یا نور خپلوان ولټوو او څرک یې معلوم کړو. که چیرته د دوی په موندلو بریالي شو نو بیا هڅه کوو تر څو تاسو هم هغه هیواد ته واستوو چې مور او پلار یا خپلوان مو پکې اوسیږي. نوموړی هیواد بیا ستاسو د درخواست د معاینې مسولیت په غاړه اخلي.

که چیرته یوازې یاست او د ډوبلین په هیڅ هیواد کې مو د کورنی کوم غړی یا خپلوان نه اوسیږي، نو بیا ډیر امکان لري چې د پناهندگی قضیه مو همدلته بررسي شي.

مونږ کولی شو ستاسو قضیه همدلته بررسي کړو که څه هم د قانون له مخې یو بل هیواد د بررسی مسولیت په غاړه ولري. مونږ دا کار د بشري، کورنی، یا کلتوري دلایلو لپاره کوو.

د دې کړنلارې په موده کې مونږ هڅه کوو تر څو **ستاسو گټې په اعظمي ډول خوندي پاتې شي**، او داسې هیواد ته مو نه لیږو چې ستاسو بشري حقونه پکې له گواښ سره مخ شي.

دا عبارت څه معنا لري چې مونږ همیشه هڅه کوو تر څو **ستاسو گټې په اعظمي ډول خوندي پاتې شي**؟ د دې معنا دا ده چې مونږ به:

- وگورو چې آیا امکان لري تاسو د خپلې کورنی سره په یو هیواد کې راغونډ کړو؛
- یقیني کړو چې تاسو خوندي او امن یاست، په خاصه توگه د هغه خلکو له لاسه چې غواړي تاسو زیانمن کړي یا بد چلند درسره وکړي؛
- یقیني کړو چې خوندي او روغ ژوند لری، خواړه او سرپنا لری، او د ټولنیز پرمختگ اړتیاوې مو هم بشپړ شوي دي؛
- ستاسو نظریات په پام کې نیسو – د مثال په ډول، آیا تاسو غواړی د کوم خپلوان سره ژوند وکړی که نه.




©European Union

## ستاسو عمر

هغه کسان چې عمر يې له 18 کالو څخه زيات وي «ځوانان» بلل کيږي. کوم چلند چې له دوی سره کيږي له ماشومانو او نوځوانو («کوچنيان») سره فرق کوي.

مهرباني وکړئ د خپل عمر په اړه ريښتيا معلومات ورکړئ.

که چيرته کوم سند ولری چې د عمر په اړه مو معلومات ورکوي، نو له چارواکو سره يې شريک کړی. که چيرته چارواکو ته ستاسو د عمر په اړه سوال پيدا شي نو دوی کولی شي د يو ډاکر څخه مرسته وغواړي تر څو معلومه کړي چې آيا عمر مو له 18 کالو څخه کم دی که زيات. مخکې له دې چې هر ډول طبي معاينه ترسره کيږي تاسو او/يا ستاسو استازی بايد خپله موافقه ښکاره کړی.


په لاندې کرښو کې هڅه کوو تر څو د ډوبلين کړناري په هکله ډيرو معمولو پوښتنو ته ځواب ورکړو او همدارنګه څرګنده کړو چې دا کړناره څنګه له تاسو سره مرسته کولی شي، او تاسو بايد کومې تمې تری ولری:

# د ګوتې نښه – څه ته ویل کیږي؟ ولې اخیستل کیږي؟

کله چې تاسو د پناه غوښتنه کوئ، **که چیرته ستاسو عمر14 کاله او یا تر هغه زیات وي نو ستاسو یو تصویر او د ګوتې عکس** (چې د "ګوتې نښه" نومیږي) به واخیستل شي او د "یوروډاک" په نوم د ګوتو د نښو یوه ډیټابیس ته لیږدل کیږي. په دې پروسیژر کې ستاسو ونډه اخیستنه اړینه ده – ټول هغه کسان چې د پناه غوښتنه کوي، د قانون پر بنسټ اړ دي چې د ګوتو نښې یې واخیستل شي.

ستاسو د ګوتې نښه به یو مهال د دې لپاره چک شي چې معلومه کړي چې مخکې مو کوم ځای ته د پناغوښتنې لپاره وړاندیز کړی دی او که نه، او یا د دې لپاره چې وکتلای شي چې په کوم سرحد کې ستاسو د ګوتې نښه اخیستل شویده او که نه. که چیرته څرګنده شي چې تاسو له مخکې د ډوبلین په یوه بل ملک کې د پناه غوښتنه کړیده نو کیدای شي تاسو هغه هیواد ته ولیږدول شئ، که چیرته هغه هیواد ته تګ ستاسو لپاره ډیر ګټور وي. دغه هیواد به بیا وروسته مسولیت ولري چې ستاسو غوښتنلیک د نړیوال محافظت په موخه تر غور لاندې ونیسي.

ستاسو د ګوتې نښې به د 10 کلونو لپاره وساتل شي، له 10 کلونو وروسته به له ډیټابیس څخه په اوتومات توګه لرې کړای شي. که چیرته تاسو د خپل مصونیت غوښتنې په پروسه کې بریالي شئ نو د ګوتې نښه به مو په ډیټابیس کې تر هغه وخته پورې پاتې وي چې په اوتومات توګه بیا له منځه ځي. که چیرته له دې وروسته تاسو د ډوبلین د ملک تابعیت تر لاسه کړ نو ستاسو د ګوتې نښه به له منځه وړل کیږي.



په یوروډاک کې یواځې ستاسو جنسیت او د ګوتې نښه ذخیره کیږي- ستاسو نوم، عکس، د زیږیدو نیټه او ملیت په ډیټابیس کې نه ثبتیږي. په داسې حال کې چې په ملي ډیټابیس کې دغه معلومات ځای کړل شویدي. په یوروډاک کې ذخیره شوي معلومات به له ډوبلین هیوادو پرته له نورو اداراتو او هیوادونو سره نه شریکیږي.

د 2015 کال د جولای تر 20، پورې کیدای شي ستاسو د ګوتې نښه د ځینو مقاماتو له خوا لکه د پولیسو او (یوروپول) یا د اروپایي پولیسو د اداري له خوا ولټول شي او د یوروډاک



©European Union

ډیټابیس ته د دې په موخه د لاسرسي غوښتنه وکړي چې د سختو جرمونو او تروریزم په وړاندې تحقیق وکولای شي او مخنیوی یې وکړي.

## کوم معلومات باید تاسو د هغو دولتي مقاماتو لپاره په اړینه توګه آماده کړئ چې ستاسو د حالت په اړه یې غواړي؟

کیدای شي تاسو د دې لپاره مرکې ته وغوښتل شئ چې ځینې داسې معلومات تر لاسه شي څو ورسره معلومه شي چې ستاسو د پناه غوښتنې د پروسې د ارزونې په حقله کوم هیواد مسولیت لري. په دې مرکه کې به زمونږ دولتي چارواکې ستاسو په اړه د ډوبلین پروسیژر روښانه کړي او هڅه به وکړي چې د امکان په صورت کې تاسو په یو بل ډوبلین هیواد کې له خپلې کورنۍ سره یوځای کړي.

که چیرته ستاسو مور او پلار او یا نور نږدې کسان په یو بل ډوبلین هیواد کې ژوند کوي، نو لطفاً مه هیروئ چې له مرکه کونکې سره دا

خبره شریکه کړئ. په دې تراو چې هر څومره معلومات چمتو کولای شې هغومره به ستاسو د کورنۍ په پیدا کولو کې له موږ سره مرسته وکړي – لکه نومونه، آدرسونه، د ټیلیفون نمرې او داسې نور.

د مرکې پر مهال به تاسو همدارازو وپوښتل شئ چې آیا په کوم بل ډوبلین هیواد کې مو ژوند کړیدی او که نه، هیله دا ده چې حقیقت ورته ووایئ.

ستاسو استازی کیدای شي له تاسو سره د مرکې پرمهال یو ځای وي تر څو مرسته او ملاتړ درسره شکاره کړي او هغه څه ته مو وهڅوي چې ستاسو لپاره تر ټولو غوره ده. که چیرته تاسو داسې کوم دلیلونه لرئ چې له مخې یې نه غواړئ چې ستاسو استازی له تاسو سره په مرکه کې یو ځای وي نو اړینه ده چې له دولتي چارواکو سره یې مطرح کړئ.

**د مرکې په پیل کې به مرکه کونکی او ستاسو استازی تاسو ته د مرکې پروسیژر توضیح کړي او د مرکې پر مهال به ستاسو حقونه روښانه کړي. که چیرته په کوم څه باندې نه پوهیږئ او یا پوښتنې لرئ نو هیله ده چې له هغو سره یې شریکې کړئ!**

مرکه ستاسو حق دی او ستاسو په غوښتنې کې یوه مهمه برخه تشکیلوي.

مرکه به تاسو ته په داسې یوه ژبه چې پرې پوهیږئ، تر سره شي. که چیرته تاسو په کارول کیدونکې ژبې باندې نه پوهیږئ، نو کولای شئ له یوه ژباړونکې څخه د مفاهمې په موخه مرسته وغواړئ. ژباړونکی اړ دی چې یواځې هغه څه وژباړي چې مرکه کونکی او تاسو یې وایئ. ژباړونکی باید خپل شخصي نظریات پکې ونه کاروي.که چیرته د ژباړونکی په خبرو نه پوهیږئ نو اړینه ده چې موږ ته ووایئ او یا له خپل استازي سره خبره شریکه کړئ.

ستاسو مرکه به محرمه وي. د دې معنا دا ده چې هیڅ داسې کوم معلومات او هغه حقایق چې له مخې یې تاسو زمونږ په هیواد کې د پناه غوښتنه کړیده، هغو کسانو او چارواکو ته نه لیږل کیږي چې په یو نه یو ډول تاسو یا ستاسو د کورنۍ هغه غړي ته چې تراوسه ستاسو په اصلي هیواد کې دی، زیان ورسوي.

**مهمه خبره دا ده چې باید تاسو او ستاسو استازی د ډوبلین پروسیژر له مهالنې چوکاټونو څخه پوهاوی ولرئ.**

## مخکې له دې چې په دې پوه شې چې تاسو به یو بل هیواد ته ولیږدول شئ او یا به دلته پاتې شئ، څومره وخت په کار دی؟

## که چیرته ستاسو د غوښتنې د څیړلو لپاره کوم بل هیواد مسول وګڼل شي تو څه به پیښ شي؟

→ که چیرته په ډوبلین هیواد کې دا ستاسو لومړنی پناه غوښتنه ده، نو تاسو به یوه بل هیواد ته د دې لپاره واستول شئ چې مور، پلار، ورور، خور، عمه، کاکا، نیا او نیکه مو په هغه هیواد کې اوسیږي او تاسو به له دې لارې له هغه/هغې/هغوی سره هلته یو ځای شئ او په ګډه به مو د پناه غوښتنې پروسه تر غور لاندې ونیول شي.[4]

→ که چیرته تاسو دلته د پناه غوښتنه نه وې کړې خو په تیرو وختونو کې مو په یو بل ډوبلین هیواد کې د پناه غوښتنه کړې وي، نو تاسو به بیرته هماغه هیواد ته ولیږل شئ او د پناه غوښتنې پروسه به مو هلته د مسولینو له خوا تر غور لاندې ونیول شي.[5]

**په دواړو حالاتو کې کیدای شي دا تر پنځو میاشتو پورې وخت ونیسي څو پریکړه وکړو چې تاسو کوم بل هیواد ته واستوو، دا کیدای شي له هغې شیبې پیل شي چې تاسو د پناه غوښتنې ته خپل وړاندیز کړی او یا له هغې شیبې چې مونږ په بل ډوبلین هیواد کې ستاسو د نړیوال محافظت له غوښتنې څخه خبر شوي یوو. مسولین به تاسو له خپلو اخیستل شویو پریکړو په ممکنه ژر وخت کې خبرداری درکړي.**

→ که چیرته تاسو په دې هیواد کې د پناه اخیستلو غوښتنه نه کوئ او په یو بل هیواد کې مو له بشپړ غور وروسته د پناه غوښتنه نه وي منل شوې، مونږ کولای شو له هغه هیواد څخه ستاسو د بیا منلو لپاره غوښتنه وکړو او یا تاسو خپل اصلي هیواد ته ستانه کړو یا کیدای شي تاسو ته په یوه دریم مصؤن هیواد کې د تلپاتې استوګنې لپاره لارې چارې ولټوو.

پناه غوښتنه نه وي منل شوې، مونږ کولای شو له هغه هیواد څخه ستاسو د بیا منلو لپاره غوښتنه وکړو او یا تاسو خپل اصلي هیواد ته ستانه کړو

4) تاسو کیدای شي دا واورئ چې خلک دې ته د ‹ مسولیت اخیستنه› وایي.
5) تاسو کیدای شي دا واورئ چې خلک دې ته › بیرته ورکړه› وایي.

یا کیدای شي تاسو ته په یوه دریم مصؤن هیواد کې د تلپاتې استوګنې لپاره لارې چارې ولټوو.

که چیرته مونږ دې پریکړې ته ورسیدو چې یو بل هیواد ستاسو د پنا اخیستلو د غوښتنې په تړاو مسولیت لري، او که حالات داسې وي چې هغه هیواد په دې برخه کې مسولیت اخیستل ومني، نو تاسو ته به په رسمي توګه د هغه حقیقت په تړاو معلومات درکول کیږي چې د نړیوال مصؤنیت په تړاو به مونږ ستاسو پر غوښتنې غور نه کوو، د دې په عوض به مونږ تاسو هماغه مسول هیواد ته بیرته ستانه کړو.

هغه هیواد ته چې ستاسو د قضیې په تړاو مسولیت مني، تاسو له هغې شیبې چې هغه هیواد ستاسو مسولیت مني، د شپږ میاشتو په اوږدو کې لیږدول کیږئ، یا د نوې غوښتنې او بیاکتنې لپاره پر وروستنی پریکړې غور کیږي،



©iStockphoto / Joe Gough

که چیرته تاسو له دې پریکړې سره موافق نه یاست او غواړئ چې دا پریکړه ونګوئ (لاندنی برخه د دې لپاره وګورئ چې د دې په مفهوم پوه شئ!). دغه مهالنی محدودیت کیدای شي په هغه صورت کې چې تاسو په بند کې یاست تر یوه کال پورې وغزیږي او یا که چیرته آزاد یا لادرکه یاست کیدای شي تر 18 میاشتو پورې وخت ونیسي.

# که چیرته تاسو بل هیواد ته په تللو کې موافق نه یاست څه به پیښ شي؟

## د دې په اړه له خپل استازي سره خبرې وکړئ!

که چیرته مونږ له تاسو غوښتنه وکړو چې یوه بل هیواد ته د دې لپاره ولاړ شئ چې ستاسو غوښتنلیک تر ارزونې لاندې ونیول شي او تاسو له دې سره موافق نه یاست، تاسو د دې فرصت په لاس کې لرئ چې د لیږدونې دغه پریکړې سره مخالفت وکړئ. دې ته مونږ ‹استیناف› یا ‹بیاکتنه› وایو.

کله چه تاسو د دولتی استازو او ادارو څخه رسمی فیصله اخلی، کولای شی چی د هغه فیصله پر خلاف تر څوارلسو ورځو پوری د ویلنیوس زون عالی ادرای محکمی ته استیناف شکایت ورکړی. ډیره مهمه ده چې خپل استیناف په ټاکل شوي مهال ویش کې وړاندې کړی. ستاسو استازی باید پدې برخه کې درسره مرسته وکړي.

- تاسو ته د څوارلسو ورځو وخت ورکول کیږی چه د خپل واپس واستیدو کړنلاره واستنوی ترڅو چه ستاسو شکایت غور سره شنل کیږی ( دغه غوښتنلیک به تاسو باید خپل استیناف شکایت سره یوځای ورکړی). که چیرته هغوی ستاسو د څندونې خبره نه مني، د دې کار د دلیل اوریدلو ته به وخت درکړل شي.
- د دې پاڼې په شاتنی برخه کې هغه معلومات شامل دي چې له مخې یې تاسو له هغه مسولینو سره اړیکه نیولای شئ چې ورسره کولای شئ په دې هیواد کې ستاسو په اړه د پریکړې کولو غوښتنه مطرح شویده.
- د استیناف د مودې په اوږدو کې تاسو ته د قانوني مرستو تر لاسه کولو لپاره وخت درکول کیږي او همداشان که چیرته اړتیا ولیدل شي تاسو ته د یوه ژباړونکي له خوا مرستې چمتو کیدای شي. که چیرته تاسو د قانوني مرستو لپاره پیسې نلرئ نو کولای شئ د وړیا قانوني خدمتونو تر لاسه کولو ته وړاندیز وکړئ. د دې پاڼې په شاتنی برخه کې د هغو اداراتو د اړیکو په اړه معلومات شامل دي چې قانوني مرستې برابروي او له تاسو سره ستا د غوښتنې په تړاو مرسته کولای شي.

## توقیف

هغه خلک چې نشي کولای هغه ځای ته سفر وکړي چې غواړي يې او يا په يوه کور يا ترلې تعمير کې ساتل کیږي، چې ورځخه وتلای نشي، د «توقيف» اصطلاح کارول کیږي.

که چیرته تاسو نابالغه یاست او یواځې په یوه استوګنځي کې ژوند کوئ نو ستاسو لپاره به هلته داسې قوانین موجود وي چې ورسره به تاسو اړ یاست چې د شپې له خوا دننه ژوند وکړئ او یا هغه مهال چې دباندې تیاره وي ، همدارز کیدای شي داسې قوانین موجود وي چې له مخې به يې اړ یاست چې تر بهر وتلو مخکې باید هغه خلک خبر کړئ چې په تاسو پاملرنه لري او همداشان ورته معلومات ورکړئ چې کله به بیرته راګرځئ. دا مقررات د دې لپاره دي چې ستاسو خوندیتوب ډاډمن کړي. د دې معنا دا نده چې تاسو د توقيف په يوه ځای کې یاست.

## ماشومان تقریبآ هیڅکله هم نه توقیف کیږي!

**آیا تاسو په توقیف کې یاست؟ که چیرته تاسو له خپل توقيف ځخه ډاډمن نه یاست نو له مسولینو ځخه پوښتنه وکړئ یا ژر تر ژره له خپل استازي او قانوني سلاکار سره خبره شریکه کړئ.[6] که چیرته معلومه شي چې تاسو په توقيف کې یاست نو له دې وروسته تاسو له هغو سره د خپل حالت په اړه خبرې کولای شئ او د توقيف د پریکړې د ننګولو لپاره په فرصتونو ځانونه پوهولای شئ!**

د ډوبلین پروسیژرونو په اوږدو کې د دې خطر موجود دی چې تاسو ته په توقيف کې د پاتې کیدو خطر هم رامنځ ته شي. دا کیدای شي هله پیښ شي چې دولتي مسولین په دې باورمن نه وي چې تاسو تر 18 کلونو کم عمر لرئ او یا له دې ویره موجوده وي چې تاسو به وتښتئ او له هغو به ځانونه پټ کړئ ځکه تاسو هم له دې په ویره کې یاست چې کوم بل هیواد ته به ولیږدول شئ.

تاسو دا حق لرئ چې د خپل توقيف په اړه دلایل په لیکلې بڼه تر لاسه

---

6) هغه کس چې د مسولینو له خوا د قانون په وړاندې ستاسو د ګټو د وړاندې کونکې په توګه پیژندل کیږي. که چیرته تاسو اړتیا لرئ نو مسولین یا ستاسو استازی به له تاسو وغواړي چې یو کس په دې برخه کې ونیسئ. د پاڼې په شاتنی برخه کې د هغو ادارتو په اړه معلومات وګورئ چې تاسو ته قانوني مقدمې وړاندې کوي.

کړئ، او دا هم تر لاسه کولای شئ چې د توقیف امر ځنګه ننګولای شئ. که چیرته تاسو تمه لرئ چې د توقیف امر به وننګولای شئ نو قانوني مرستو ته د لاسرسي لپاره هم تاسو ته امکانات برابر کړل شویدي. نو که چیرته خپه یاست له خپل استازي یا قانوني سلاکار سره خبرې اترې وکړئ.

که چیرته د ډوبلین پروسیژر پرمهال تاسو توقیف کیږئ، د توقیف لپاره به تاسو ته لاندني مهالني چوکاټونه په پام کې نیول کیږي: کیدای شي مونږ له کوم بل هیواد څخه ستاسو د مسولیت د نیولو په اړه غوښتنه وکړو چې دا کار به ستاسو د پناه اخیستنې د غوښتنې څخه تر **یوې میاشتې** پورې تر سره کړل شي. له هغې وروسته به د **دوو اونیو** په اوږدو کې د هغه هیواد ځواب معلوم شي چې غوښتنه ورڅخه شویده. په پای کې که چیرته تاسو په توقیف کې پاتې کیږئ، ستاسو لیږدونه به د مسول هیواد له قبلونې وروسته **د شپږو اونیو** په اوږدو کې تر سره کیږي.

که چیرته تاسو پریکړه کوئ چې د لیږدونې پریکړه هغه مهال چې تاسو په توقیف کې یاست بدله شي، دولتي مسولین مکلف ندي چې تاسو د شپږ اونیو په اوږدو کې هغه هیواد ته ستانه کړي. له هغې وروسته به دولتي مسولین تاسو له موجودو انتخابونو څخه باخبره کړي.

که چیرته دولتي مسولین په هغه مهالني چوکاټ کې پاتې راځي چې له بل هیواده ستاسو د مسولیت د اخیستلو غوښتنه وکړي او یا ستاسو


©European Union



©European Union

لیږدیدنه په خپل وخت نه تر سره کوي، د ډوبلین مقرراتو پربنسټ به ستاسو توقیف پای ته رسیږي. په هغه حالت کې به هغه نورمال زماني محدودیتونه عملي کیږي چې په 11 پاڼه کې وړاندې شویدي.

## د هغې دورې په ترڅ کې چې پریکړه کیږي چې زما په کار کې مسولیت د چا په غاړه دی زه کوم حقونه لرم؟

که چیرته ستاسو د پناه اخیستلو پر غوښتنې د غور کولو مسولیت زمونږ په غاړه وي نو تاسو په دې هیواد کې د پاتې کیدو حق لرئ، یا تر هغه مهاله چې مسولیت د بل هیواد په اوږو اچول کیږي او تاسو هلته لیږدول کیږئ. که چیرته هغه هیواد چې تاسو پکې همدا اوس ژوند کوئ ستاسو د پناه اخیستنې پر غوښتنې د غور کولو مسولیت لري، تاسو لږ تر لږه تر هغه وخت پورې دلته د اوسیدلو حق لرئ چې ستاسو د پناه غوښتنې پرغوښتنلیک لومړنی پریکړه عملي کړای شي. تاسو همداشان د موادو د تر لاسه کولو له حالاتو څخه ګټه پورته کولای شئ لکه سرپناه، خواړه او داسې نور، همدا شان به تاسو ته اساسي روغتیایي خدمتونه او عاجلې طبي مرستې دلاسرسي وړ وي. تاسو همداشان مکتب ته د تللو حق لرئ.

تاسو ته به دا فرصت هم درکړل شي چې مونږ ته د خپل حالت په اړه معلومات راکړئ او په ډوبلین هیوادونو کې د خپلې کورنۍ د غړو له موجویت څخه مونږ ته خبر راکړئ، دا کار تاسو هم په لیکلې او هم په شفاهي توګه تر سره کولای شئ، د دې کار د تر سره کولو لپاره خپله

مورنۍ ژبه یا داسې بله ژبه وکاروئ چې تاسو پرې بلد یاست (یا د اړتیا په وخت کې له ژباړونکي څخه مرسته وغواړئ). تاسو به همداشان د هغې پریکړې یوه لیکلې کاپي تر لاسه کړئ چې بل هیواد ته ستاسو د لیږدولو پریکړه پکې لیکل شویده. تاسوه همداشان حق لرئ چې د لازیاتو معلوماتو لپاره له مونږ سره اړیکه ونیسئ او یا په دې هیواد کې د ملګرو ملتونو د کډوالو د اداري (UNHCR) سره اړیکه ټینګه کړئ.

**ستاسو د حقونو په اړه به ستاسو استازی او دولتي مسولین تاسو ته نور توضیحات هم درکړي!**

## هغه شخصي معلومات چې تاسو یې وړاندې کوئ له کوم برخلیک سره مخامخ کیږي؟ تاسو به څنګه پوه شئ چې له دې معلوماتو به د غلطو مقاصدو لپاره کار نه اخیستل کیږي؟

د ډوبلین هیوادونو مسولین کولای شي هغه معلومات تبادله کړي چې تاسو یې د ډوبلین پروسیژر پر مهال ورکوئ، دا کار به یواځې د خپل مکلفیت د بشپړولو لپاره د ډوبلین د مقرراتو په محدوده کې تر سره کوي.

تاسو به لاندنیو موارودو ته د لاسرسي حق ولرئ:

- هغه معلومات چې له تا سره تړاو لري. تاسو حق لرئ چې غوښتنه وکړئ چې په هغه صورت کې چې مناسبه نه وي دا معلومات بدل کړای شي او یا د غیر قانوني پروسس په حالت کې کیدای شي دا معلومات بیرته له منځه یوړل شي؛
- په هغه معلوماتو کې چې له مخې یې تاسو غوښتنه کولای شئ چې ستاسو معلومات دې تصحیح شي او یا دې له منځه یوړل شي، پشمول د ډوبلین پروسیژر په برخه کې د ځانګړیو مسولیت لرونکو مناسبو مسولینو د پیژندنې د اړیکو تفصیلات، او د اسنادو د محافظت د ملي اداري هغه مسولین چې د شخصي اسنادو د ساتنې په تړاو د شکایتونو د اوریدلو مسولیت په غاړه لري.

# چیرته کولای شئ چې د مرستې غوښتنه وکړئ؟

د پناه ورکولو او دوبلین مراحلو اجراییوی اداری/ یوروداک (Eurodac) معلوماتی سیستم مشرتوب پته اوارتباطی نښی:

**د پناهنده گی تو مهاجرت دفتر د کورنیو چارو وزارت تر لاندی**

پته: L. Sapiegos g. 1, 10312 ویلنیوس

تیلیفون: +370 5 271 7112

برښنالیک: md.rastine@vrm.lt

ویب پاڼه: http://www.migracija.lt

د هغی اداری او سازمانونه چه د بغیر استازو او کورنی واړو صغیرونو نه استازیتوب کوی پته او نښی:

**د پناهنده گانو هرکلی مرکز**

پته: Karaliaus Mindaugo g. 18, 55283 Rukla, Jonavos r.

تیلیفون: ,+370 3 497 3377 +370 698 48776

برښنالیک: centras@rppc.lt

ویب پاڼه: http://www.rppc.lt

د واړو او بچیانو د حقوقو ساتونکی مسؤول ملی اداری پته او نښی:

**د واړو او بچیانو حقوقو ساتونکو موسسه**

پته: Plačioji g. 10, 01308 ویلنیوس

تیلیفون: +370 5 2107176

برښنالیک:vaikams@lrs.lt

ویب پاڼه: http://vaikams.lrs.lt

**د واړو او بچیانو حقوقو ساتونکی دولتی اداره او د روزونو ملی اداره دکار او اجتماعیو چاړو وزارت تر لاندی**

پته: A. Vivulskio g. 13, 03221 ویلنیوس

تیلیفون: +370 5 231 0928

برښنالیک: info@vaikoteises.lt

ویب پاڼه: http://www.vaikoteises.lt

د ملی څیړونی او څاړونی اداری پته او ارتباطی نښی:

**د معلوماتو دولتی څاورنکی اداره:**

پته: Juozapavičiaus g. 6, 09310 ویلنیوس

تیلیفون: ,+370 5 271 2804 +370 5 279 1445

برښنالیک: ada@ada.lt

ویب پاڼه: https://www.ada.lt/

د ملګرو ملتونو د مهاجرینولپاره ستر استازی سیمه ایزه دفتراو دهغه وظیفه:

### د ملګرو ملتونو ستر استازی مهاجرینو چارو کی سیمه ایزه استازی دفتر لیتوانیا کښی:

پته: A. Jakšto g. 12, 01105 ویلنیوس
تیلیفون: +370 5 210 7416
برښنالیک: kules@unhcr.org
ویب پاڼه:
https://www.unhcr.se/lt/home.html

د ملګرو ملتونو لوړ استازی د مهاجرینو په باره کښی کولای شی تاسو ته د پناه ورکولو او مدد کولو په باره کښی معلومات او مشورتونه ورکړی. دا امداد او مشوری د پناه غوښتونکو او مهاجرینو ته لیتوانیا کښی برابر کیږی.

د مهاجرت نړیواله سازمان دفتر پته او ارتباط نښی:

### د مهاجرت نړیواله سازمان یا آی او ام دفتر ویلنیوس کښی

پته: Jakšto g. 12, 01105 ویلنیوس
تیلیفون: +370 5 261 0115
برښنالیک: iomvilnius@iom.lt
ویب پاڼه: http://www.iom.lt/

آی او ام د رضاکارانه راستنیدو دپاره مرسته او مشوری ورکوی. دا مرسته د بی کسو او یوازی پاتی شویو واړو بچیانو حقوقو مرستو سره سم برابر شوی دی او دهغوی د امن راستنیدو وار برابروی. هغو واړو بی کسو بچیانو ته چی بیرته ستانیدو نه وروسته د نوی ژوند مرستو ته اړتیا وی نو آی او ام هغی سره به مرسته وکړی.

د محلی سره صلیب ټولنه پته او نښی او دهغی وظیفه په دی هکله کښی:

### د لیتوانیا د سره صلیب ټولنه

پته: A. Juozapavičiaus g. 10A, 09316 ویلنیوس
تیلیفون: +370 5 212 7322,
+370 686 30 050
برښنالیک: info@redcross.lt
ویب پاڼه: http://www.redcross.lt

د لیتوانیا د سره صلیب ټولنه مهاجرینو ته حقوقی او بشری مرستی راسره کوی. همداټوګه د هغوی کورنیو او خپلوانو څیرنه او پیدا کول ته به هم مرسته کوی.

مهاجرینوته/ او واړو بچیانوته مسرتوونکو سازمانونو پته او نښی:

### د ویلنیوس ستر اسقف ټولنه کاریتاس

پته: Odminių g. 12, 01122 ویلنیوس
تیلیفون: +370 5 261 1014
برښنالیک: info@vilnius.caritas.lt
ویب پاڼه: http://www.vilnius.caritas.lt

که چیرته غواړی استیناف شکایت ورکړی نو ځان ته دسی مالی توان نه وینی چه دفاعی وکیل واخلی، نو د کورنیو چارو وزارت د پناهنده ګی او مهاجرت دفتر ته اړیکی تینګه کړی.

BZ-01-14-069-PS-C

doi:10.2847/21566
ISBN 978-92-9243-174-7

European Commission

EASO

MIGRACIJOS DEPARTAMENTAS

Publications Office